لومړی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

الف- $8-(x+5)=2$ نوکان حل یا لرې کړئ

$$\Leftrightarrow 8-x-5 = 2 \mid +5$$
$$\Leftrightarrow 8-x = 7 \mid -8$$
$$\Leftrightarrow -x = -1 \mid \cdot(-1)$$
$$\Leftrightarrow x = 1 \Rightarrow L = \{1\}$$

نوکان واز کړئ

ب –

$$9+(5-x) = 6 \text{ Klammer auflösen}$$
$$\Leftrightarrow 9+5-x = 6 \mid -5$$
$$\Leftrightarrow 9-x = 1 \mid -9$$
$$\Leftrightarrow -x = -8 \mid \cdot(-1)$$
$$\Leftrightarrow x = 8 \Rightarrow L = \{8\}$$

نوکان واز کړئ

پ –

نوکان یا قوسونه سره ضرب کړئ $(x-6)(x+3) = (x-5)(x-2) \mid$

$$\Leftrightarrow x^2+3x-6x-18 = x^2-2x-5x+10 \mid -x^2$$

سره یوځای کړئ $\Leftrightarrow 3x-6x-18 = -2x-5x+10 \mid$

$$\Leftrightarrow -3x-18 = -7x+10 \mid +7x$$
$$\Leftrightarrow 4x-18 = 10 \mid +18$$
$$\Leftrightarrow 4x = 28 \mid :4$$
$$\Leftrightarrow x = 7 \Rightarrow L = \{7\}$$

ت –

$$(x+3)(x+7) = (x+2)(x+9) \mid$$

نوکان ضرب کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\Leftrightarrow x^2 + 7x + 3x + 21 = x^2 + 9x + 2x + 18 \mid -x^2$$

$$\Leftrightarrow \quad 7x + 3x + 21 = \quad 9x + 2x + 18 \mid$$

سره يوځا يې کړئ

$$\Leftrightarrow \quad 10x + 21 = \quad 11x + 18 \mid -11x$$
$$\Leftrightarrow \quad -x + 21 = \quad 18 \mid -21$$
$$\Leftrightarrow \quad -x \quad = \quad -3 \mid \cdot(-1)$$
$$\Leftrightarrow \quad x \quad = \quad 3 \Rightarrow L = \{3\}$$

دويم:الف- $56 - (7x - 9) = 9 + (11x - 3) - (6x + 13)$

نوکان حل کړی، دلته مخنخبنه په پام کې ونيسی

$$\Leftrightarrow 56 - 7x + 9 = 9 + 11x - 3 - 6x - 13$$

تنظيم کړی او سره يوځای کړئ

$$\Leftrightarrow \quad -7x + 65 = 5x - 7 \mid -5x$$
$$\Leftrightarrow \quad -12x + 65 = \quad -7 \mid -65$$
$$\Leftrightarrow \quad -12x \quad = \quad -72 \mid : (-12)$$
$$\Leftrightarrow \quad x \quad = \quad 6 \Rightarrow L = \{6\}$$

ب-

$$(2x - 5)(3x + 1) = (6x - 10)(x - 1)$$
$$\Leftrightarrow 6x^2 + 2x - 15x - 5 = 6x^2 - 6x - 10x + 10 \mid -6x^2$$
$$\Leftrightarrow \quad -13x - 5 = \quad -16x + 10 \mid +16x$$
$$\Leftrightarrow \quad 3x - 5 = \quad 10 \mid +5$$
$$\Leftrightarrow \quad 3x \quad = \quad 15 \mid : 3$$
$$\Leftrightarrow \quad x \quad = \quad 5 \Rightarrow L = \{5\}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

پ-

$$\frac{x}{4}+\frac{5x}{6}+\frac{5}{6}=\frac{x}{2}+x \mid -\frac{x}{2}-x$$

$$\Leftrightarrow \underbrace{\frac{x}{4}+\frac{5x}{6}-\frac{x}{2}-\frac{x}{1}}_{HN=24}+\frac{5}{6}=0 \mid -\frac{5}{6}$$

$$\Leftrightarrow \frac{6x}{24}+\frac{20x}{24}-\frac{12x}{24}-\frac{24x}{24}=-\frac{5}{6}$$

$$\Leftrightarrow \quad -\frac{10x}{24}=-\frac{5}{6} \mid \cdot\left(-\frac{24}{10}\right)$$

$$\Leftrightarrow \quad x=\frac{5}{6}\cdot\frac{24}{10}=2 \Rightarrow L=\{2\}$$

ت-

$$\frac{10x}{6}-\frac{8x}{9}=4\frac{2}{3}$$

$$\Leftrightarrow \underbrace{\frac{5x}{3}-\frac{8x}{9}}_{HN=9}=\frac{14}{3}$$

$$\Leftrightarrow \frac{15x}{9}-\frac{8x}{9}=\frac{14}{3}$$

$$\Leftrightarrow \frac{7x}{9}=\frac{14}{3} \mid \cdot\frac{9}{7}$$

$$\Leftrightarrow x=\frac{14}{3}\cdot\frac{9}{7}=6 \Rightarrow L=\{6\}$$

دریم:

الف-

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\frac{2x}{5}+\frac{3x}{2}=4\frac{1}{2}+x \mid -x$$

$$\Leftrightarrow \underbrace{\frac{2x}{5}+\frac{3x}{2}-\frac{x}{1}}_{HN=10}=\frac{9}{2}$$

$$\Leftrightarrow \frac{4x}{10}+\frac{15x}{10}-\frac{10x}{10}=\frac{9}{2}$$

$$\Leftrightarrow \frac{9x}{10}=\frac{9}{2} \mid \cdot\frac{10}{9}$$

$$\Leftrightarrow x=\frac{9}{2}\cdot\frac{10}{9}=5 \Rightarrow L=\{5\}$$

$$\frac{3}{2x}+\frac{2}{3x}=\frac{1}{9}+\frac{7}{3x} \mid -\frac{7}{3x}$$

$$\Leftrightarrow \underbrace{\frac{3}{2x}+\frac{2}{3x}-\frac{7}{3x}}_{HN=6x}=\frac{1}{9}$$

$$\Leftrightarrow \frac{9}{6x}+\frac{4}{6x}-\frac{14}{6x}=\frac{1}{9}$$

$$\Leftrightarrow -\frac{1}{6x}=\frac{1}{9} \mid \cdot x$$

$$\Leftrightarrow -\frac{1}{6}=\frac{x}{9} \mid \cdot 9$$

$$\Leftrightarrow -\frac{9}{6}=x \Leftrightarrow x=-\frac{9}{6}=-\frac{3}{2} \Rightarrow L=\left\{-\frac{3}{2}\right\}; \quad D=\mathbb{R}^*$$

ب-

پ-

$$\underbrace{\frac{2x-3}{11}+2}_{HN=11}=\frac{3x-4}{10}$$

$$\Leftrightarrow \frac{2x-3}{11}+\frac{22}{11}=\frac{3x-4}{10}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\Leftrightarrow \frac{2x-3+22}{11} = \frac{3x-4}{10} \,|\cdot 11\cdot 10$$
$$\Leftrightarrow 10(2x+19) = 11(3x-4)$$
$$\Leftrightarrow 20x+190 = 33x-44 \,|\, -33x-190$$
$$\Leftrightarrow -13x = -234 \,|: (-13)$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{-234}{-13} = 18 \Rightarrow L = \{18\}$$

ځلوم- الف-

$$12-\left[(16+7x)+(3x-1)\right] = 6+(2x-5)$$

لومړی ګرد نوکان واز کړی یا حل کړی

$$\Leftrightarrow 12-[16+7x+3x-1] = 6+2x-5$$

سره یوځای کړی او تنظیم کړی

$$\Leftrightarrow 12-[10x+15] = 2x+1$$

ګوديزه نوکان واز یا حل کړئ

$$\Leftrightarrow 12-10x-15 = 2x+1$$

سره یوځای کړی او تنظیم کړی

$$\Leftrightarrow -10x-3 = 2x+1 \,|\, -2x$$
$$\Leftrightarrow -12x-3 = 1 \,|\, +3$$
$$\Leftrightarrow -12x = 4 \,|: (-12)$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{4}{-12} = -\frac{1}{3} \Rightarrow L = \left\{-\frac{1}{3}\right\}$$

ب –

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$x-\left[(4x+4{,}5)+3{,}5\right]=2{,}5-(3{,}5-4x)$$
$$\Leftrightarrow x-[4x+4{,}5+3{,}5]=2{,}5-3{,}5+4x$$
$$\Leftrightarrow x-4x-4{,}5-3{,}5=-1+4x \mid -4x$$
$$\Leftrightarrow -7x-8=-1 \mid +8$$
$$\Leftrightarrow -7x=7 \mid :(-7)$$
$$\Leftrightarrow x=-1 \Rightarrow L=\{-1\}$$

پ-

$$23a-\{5ax-\left[9ax+(12a-6ax)\right]-(3a-8ax)\}-15a=5ax-7a$$
$$\Leftrightarrow 8a-\{5ax-[9ax+12a-6ax]-3a+8ax\}=5ax-7a$$
$$\Leftrightarrow 8a-5ax+9ax+12a-6ax+3a-8ax=5ax-7a \mid -5ax$$
$$\Leftrightarrow -15ax+23a=-7a \mid -23a$$
$$\Leftrightarrow -15ax=-30a \mid :(-15a)$$
$$\Leftrightarrow x=\frac{-30a}{-15a}=2 \Rightarrow L=\{2\}$$

ت ــ

$$a^2b+b^2c-\{bx-\left[(a^2b-bx)-(b^2c+bx)-a^2b\right]+bx\}=0$$

گرد نوکان واز کړی

$$\Leftrightarrow a^2b+b^2c-\{bx-\left[a^2b-bx-b^2c-bx-a^2b\right]+bx\}=0$$

سره یوځای کړئ

$$\Leftrightarrow a^2b+b^2c-\{bx-\left[-2bx-b^2c\right]+bx\}=0$$

کوږیز نوکان حل کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\Leftrightarrow a^2b + b^2c - \{bx + 2bx + b^2c + bx\} = 0$$

سره يوځای کړی

$$\Leftrightarrow a^2b + b^2c - \{4bx + b^2c\} = 0$$

مارپيچ نوکان واز کړی يا حل کړی

$$\Leftrightarrow a^2b + b^2c - 4bx - b^2c = 0$$

سره يوځای کړی او تنظيم کړی

$$\Leftrightarrow -4bx + a^2b = 0 \mid -a^2b$$

$$\Leftrightarrow -4bx = -a^2b \mid : (-4b)$$

$$\Leftrightarrow x = \frac{-a^2b}{-4b} = \frac{a^2}{4} = \frac{1}{4}a^2 \Rightarrow L = \left\{\frac{1}{4}a^2\right\}$$

پنځم:

الف

$$(6x - 20)(8x - 4) = (12x - 20)(4x - 2)$$

$$\Leftrightarrow 48x^2 - 24x - 160x + 80 = 48x^2 - 24x - 80x + 40 \mid -48x^2$$

$$\Leftrightarrow -184x + 80 = -104x + 40 \mid +104x$$

$$\Leftrightarrow -80x + 80 = 40 \mid -80$$

$$\Leftrightarrow -80x = -40 \mid : (-80)$$

$$\Leftrightarrow x = \frac{-40}{-80} = \frac{1}{2} \Rightarrow L = \left\{\frac{1}{2}\right\}$$

ب –

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$(4x-6)(3x-4)-4x(x-4) = (8x+2)(x-5)+4$$
$$\Leftrightarrow 12x^2-16x-18x+24-4x^2+16x = 8x^2-40x+2x-10+4$$
$$\Leftrightarrow 8x^2-18x+24 = 8x^2-38x-6 \mid -8x^2$$
$$\Leftrightarrow -18x+24 = -38x-6 \mid +38x$$
$$\Leftrightarrow 20x+24 = -6 \mid -24$$
$$\Leftrightarrow 20x = -30 \mid : 20$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{-30}{20} = -\frac{3}{2} \Rightarrow L = \left\{\frac{3}{2}\right\}$$

پ = $22-(2x-10)(2x+9) = 2x^2-(6x-8)(x+5)$

که د ضرب مخ ته يوه کميزه يا منفي نخښه وي (-)، نو ضرب په نوکانو کې وليکئ

$$\Leftrightarrow 22-\left[4x^2+18x-20x-90\right] = 2x^2-\left[6x^2+30x-8x-40\right]$$
$$\Leftrightarrow 22-\left[4x^2-2x-90\right] = 2x^2-\left[6x^2+22x-40\right]$$
$$\Leftrightarrow 22-4x^2+2x+90 = 2x^2-6x^2-22x+40$$
$$\Leftrightarrow -4x^2+2x+112 = -4x^2-22x+40 \mid +4x^2$$
$$\Leftrightarrow 2x+112 = -22x+40 \mid +22x$$
$$\Leftrightarrow 24x+112 = 40 \mid -112$$
$$\Leftrightarrow 24x = -72 \mid : 24$$
$$\Leftrightarrow x = \frac{-72}{24} = -3 \Rightarrow L = \{-3\}$$

ت –

$$(2a+x)(x+2b) = (x-3a)(x-3b)+5bx$$
$$\Leftrightarrow 2ax+4ab+x^2+2bx = x^2-3bx-3ax+9ab+5bx \mid -x^2$$
$$\Leftrightarrow 2ax+2bx+4ab = -3ax+2bx+9ab \mid +3ax-2bx$$
$$\Leftrightarrow 5ax+4bx = 9ab \mid -4ab$$
$$\Leftrightarrow 5ax = 5ab \mid : 5a$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\Leftrightarrow \quad x = \frac{5ab}{5a} = b \Rightarrow L = \{ b \}$$

ت

$$\left(x + a^2\right)\left(b^2 - c^2\right) = a^2\left(2b^2 - c^2\right) - c^2x$$

$$\Leftrightarrow b^2x - c^2x + a^2b^2 - a^2c^2 = 2a^2b^2 - a^2c^2 - c^2x \mid +c^2x$$

$$\Leftrightarrow b^2x + a^2b^2 - a^2c^2 = 2a^2b^2 - a^2c^2 \mid -a^2b^2$$

$$\Leftrightarrow b^2x - a^2c^2 = a^2b^2 - a^2c^2 \mid +a^2c^2$$

$$\Leftrightarrow b^2x = a^2b^2 \mid : b^2$$

$$\Leftrightarrow \quad x = \frac{a^2b^2}{b^2} = a^2 \Rightarrow L = \left\{a^2\right\}$$

شپږم:

الف ـــ

$$\frac{5}{4(x+2)} - \frac{2}{12(x+2)} = \frac{x}{4(x+2)} + \frac{1}{3(x+2)} \mid HN = 12(x+2)$$

$$\Leftrightarrow \frac{15}{12(x+2)} - \frac{2}{12(x+2)} = \frac{3x}{12(x+2)} + \frac{4}{12(x+2)} \mid \cdot 12(x+2)$$

$$\Leftrightarrow 15 - 2 = 3x + 4$$

$$\Leftrightarrow 3x + 4 = 13 \mid -4$$

$$\Leftrightarrow 3x = 9 \mid : 3$$

$$\Leftrightarrow \quad x = 3 \Rightarrow L = \{3\}; D = \mathbb{R} \setminus \{-2\}$$

ب ـــ

$$\frac{2x}{4(x+10)} + \frac{3x}{2(x+10)} = \frac{5}{2(x+10)} + \frac{45}{6(x+10)} \mid \text{ kürzen}$$

$$\Leftrightarrow \frac{x}{2(x+10)} + \frac{3x}{2(x+10)} = \frac{5}{2(x+10)} + \frac{15}{2(x+10)} \mid \cdot 2(x+10)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\Leftrightarrow x + 3x = 5 + 15$$
$$\Leftrightarrow 4x = 20 \,|: 4$$
$$\Leftrightarrow x = 5 \Rightarrow L = \{5\}; \quad D = \mathbb{R} \setminus \{-10\}$$

اوم:

الف ــ

$$\frac{5}{x+3} + \frac{1}{x-1} - \frac{6}{x+2} = 0 \,|\, HN = (x+3)(x-1)(x+2)$$
$$\Leftrightarrow \frac{5(x-1)(x+2)}{(x+3)(x-1)(x+2)} + \frac{1(x+3)(x+2)}{(x+3)(x-1)(x+2)} - \frac{6(x+3)(x-1)}{(x+3)(x-1)(x+2)} = 0 \,|\cdot HN$$
$$\Leftrightarrow 5(x-1)(x+2) + (x+3)(x+2) - 6(x+3)(x-1) = 0$$
$$\Leftrightarrow 5\left[x^2 + x - 2\right] + \left[x^2 + 5x + 6\right] - 6\left[x^2 + 2x - 3\right] = 0$$
$$\Leftrightarrow 5x^2 + 5x - 10 + x^2 + 5x + 6 - 6x^2 - 12x + 18 = 0$$
$$\Leftrightarrow -2x + 14 = 0 \,|\, -14$$
$$\Leftrightarrow -2x = -14 \,|: (-2)$$
$$\Leftrightarrow x = 7 \Rightarrow L = \{7\}; \quad D = \mathbb{R} \setminus \{-3; 1; -2\}$$

$$\frac{x}{x+1} + \frac{4}{x-1} = \frac{x}{x-1} \,|\, HN = (x+1)(x-1)$$
$$\Leftrightarrow \frac{x(x-1)}{(x+1)(x-1)} + \frac{4(x+1)}{(x+1)(x-1)} = \frac{x(x+1)}{(x+1)(x-1)} \,|\cdot (x+1)(x-1)$$
$$\Leftrightarrow x(x-1) + 4(x+1) = x(x+1)$$
$$\Leftrightarrow x^2 - x + 4x + 4 = x^2 + x \,|\, -x^2$$
$$\Leftrightarrow 3x + 4 = x \,|\, -x - 4$$
$$\Leftrightarrow 2x = -4 \,|: 2$$
$$\Leftrightarrow x = -2 \Rightarrow L = \{-2\}; \quad D = \mathbb{R} \setminus \{-1; 1\}$$

ب ــ

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

پ –

$$\frac{2}{x-1}+\frac{3}{x+2}=\frac{5}{x-2}-\frac{4}{x^2-4}\,|\,HN=(x-1)\underbrace{(x+2)(x-2)}_{\text{3. bin. Formel}}=(x-1)\left(x^2-4\right)$$

$$\Leftrightarrow \frac{2\left(x^2-4\right)}{(x-1)\left(x^2-4\right)}+\frac{3(x-1)(x-2)}{(x-1)\left(x^2-4\right)}=\frac{5(x-1)(x+2)}{(x-1)\left(x^2-4\right)}-\frac{4(x-1)}{(x-1)\left(x^2-4\right)}\,|\cdot HN$$

$$\Leftrightarrow 2\left(x^2-4\right)+3(x-1)(x-2)=5(x-1)(x+2)-4(x-1)$$

$$\Leftrightarrow 2x^2-8+3\left[x^2-3x+2\right]=5\left[x^2+x-2\right]-4x+4$$

$$\Leftrightarrow 2x^2-8+3x^2-9x+6=5x^2+5x-10-4x+4$$

$$\Leftrightarrow 5x^2-9x-2=5x^2+x-6\,|\,-5x^2$$

$$\Leftrightarrow -9x-2=x-6\,|\,-x$$

$$\Leftrightarrow -10x=-4\,|:(-10)$$

$$\Leftrightarrow x=\frac{-4}{-10}=\frac{2}{5}\Rightarrow L=\left\{\frac{2}{5}\right\};\quad D=\mathbb{R}\setminus\{-2;1;2\}$$

ت-

$$\frac{2}{x-5}-\frac{6}{2x-5}+\frac{4}{3x-5}=\frac{1}{3x-5}\,|-\frac{1}{3x-5}$$

$$\Leftrightarrow \frac{2}{x-5}-\frac{6}{2x-5}+\frac{3}{3x-5}=0\,|\,HN=(x-5)(2x-5)(3x-5)$$

$$\Leftrightarrow \frac{2(2x-5)(3x-5)}{HN}-\frac{6(x-5)(3x-5)}{HN}+\frac{3(x-5)(2x-5)}{HN}=0\,|\cdot HN$$

$$\Leftrightarrow 2(2x-5)(3x-5)-6(x-5)(3x-5)+3(x-5)(2x-5)=0$$

$$\Leftrightarrow 2\left[6x^2-10x-15x+25\right]-6\left[3x^2-5x-15x+25\right]+3\left[2x^2-5x-10x+25\right]$$

$$=0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\Leftrightarrow 2\left[6x^2-25x+25\right]-6\left[3x^2-20x+25\right]+3\left[2x^2-15x+25\right]=0$$

$$\Leftrightarrow 12x^2-50x+50-18x^2+120x-150+6x^2-45x+75=0$$

$$\Leftrightarrow 12x^2-18x^2+6x^2-50x+120x-45x+50-150+75=0$$

$$\Leftrightarrow 25x-25=0 \mid +25$$

$$\Leftrightarrow 25x \quad =25 \mid : 25$$

$$\Leftrightarrow \quad x \quad =1 \Rightarrow L=\{1\};\quad D=\mathbb{R}\setminus\left\{5;\frac{5}{2};\frac{5}{3}\right\}$$

## پوښتنې

کربنیزمساوات

کربنیز مساوات د شي او تکست پوښتنو سره

تمرینونه:

کربنیز مساوات III

لومړی – تعریفډېرئ(- سټ) او حلسټ و ټاکی یا معلومه کړی

الف - $\frac{a}{x}+\frac{b}{x}=m$ ب - $\frac{x}{a}-\frac{x}{2a}=m$

پ - $\frac{bx}{a}-\frac{a}{bc}=\frac{b}{ac}-\frac{ax}{b}$ ت - $\frac{x}{a-b}+\frac{x}{a+b}=a$

دویم - تعریف سټ او حلسټ و ټاکی یا معلوم کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



-------------------------------------------------------------------------------

الف - $\frac{m-x}{a-b}-\frac{m+x}{a+b}=0$ ب - $\frac{a-x}{b-x}-\frac{a-b}{a+b}=0$

پ - $\frac{a+x}{b-x}-\frac{b-x}{a+x}=\frac{2a^2-2b^2}{ab-ax+bx-x^2}$

ت - $2\left(\frac{7}{3}+4a\right)-4\left(-\frac{4}{3}+\frac{a}{2}\right)-6a=9$

دريم - درې خوينديې ورونه يوځای 21 کاله دي A دوه واره د B او C د B نيم عمر لري. هر يو يا هره يوه له دوی څومره عمر لري؟

څلورم - يو اوبه ساتونکی د دوه نلونو له لارې ډمېدی شي. لومړی يې په 10 min دقيقو او دويم يې په 15 min دقيقو کې ډکوی. په حو دقيقو کې به دا اوپه ساتی ډک شي، که دواړه نلونه په همغه وخت کې په کار واچول شي؟

پنځم - يوه کيشتۍ له بار څخه د 9 کارګرو له خوا په 5ورځو کې تشيږي.په څو ورځو که به دا کيښتی د 15 کارګرو څخه د برابر کار سره تشه شي؟

شپږم - پلار او زوی حوخره زاړه دی، که لار نن د زوی دوه برابره وی او 15 کاله پخوا دې ځله دومره زوړ وو لکه زوی؟

اوم - درې ملګرو په ګډه € 350 سپما کړي.A دB دوه ځلخ زاتې سپما کړي او C فقط د B نيمايي سپما کړي. هر يوه له دوی څومره € بيسې سپما کړې؟.

اتم - يو ولاړګوډيز يا مستطيل 24 cm محيط لري، که ضلعې يې دوه برابری لوي شوې وي. د اصلي مستطيل ضلعې يا اړخونه څومره لوی دي؟

نهم - که د يوې مربع يو اړخ 6 cm لنډ او بل يې 5 cm سانتی متره اوږد شی، نو د منځ ته راغلي مستطيل سطحه $45\ cm^2$کوچنۍ کيږي، نسبت مربع ته. د مربع اړخ څومره لوي دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسم - یو ټانک دوه نلونه A اوB ډکوی او یو نل C یې تشوی. دا ټانک ځانلهA په 80 min دقیقو کې ډکوي، B ځانله په 90 min کې. C دا ټانک به 60 min دقیًو تشولای شي. که دریواړه نلونه په همغه وخت کې په کار پیل وکړي. ټانک به په څو دقیقو کې ډک شي؟

یولسم - دوه موټروالا A او B د کار ځای ته په موټر کې ځي. A په ساعت کې په منځنۍ ( متوسط) ډول 54 km لا په ساعت کې وهي اوB په ساعت کې 72 km لار وهي. کله به A او B سره یوځای شي، که A له B په همغه لار 7 min دقیقې د مخه حرکت وکړي؟

ځوابونه

کربنیز مساوات ( برابرونونه) III پایلې یا لاس ته راوړنې (نتیجې)

لومړی:الف-
$$\frac{a}{x}+\frac{b}{x}=m \Rightarrow L=\left\{\frac{a+b}{m}\right\};\quad m\neq 0;\quad D=\mathbb{R}^{*}$$

ب -
$$\frac{x}{a}-\frac{x}{2a}=m \Rightarrow L=\{2am\};\qquad D=\mathbb{R};\, a\neq 0$$

پ -
$$\frac{ax}{b}-\frac{b}{ac}=\frac{a}{bc}-\frac{bx}{a} \Rightarrow L=\left\{\frac{1}{c}\right\};\quad c\neq 0;\quad D=\mathbb{R};\, a\neq 0; b\neq 0; c\neq 0$$

ت -
$$\frac{x}{a-b}+\frac{x}{a+b}=a \Rightarrow L=\left\{\frac{a^2-b^2}{2}\right\};\qquad D=\mathbb{R};\, a-b\neq 0; a+b\neq 0$$

دویم: الف-
$$\frac{m-x}{a-b}-\frac{m+x}{a+b}=0 \Rightarrow L=\left\{\frac{bm}{a}\right\};\quad a\neq 0;\qquad D=\mathbb{R};\, a-b\neq 0; a+b\neq 0$$

ب –
$$\frac{a-x}{b-x}-\frac{a-b}{a+b}=0 \Rightarrow L=\left\{\frac{a^2+b^2}{2b}\right\};\quad b\neq 0;\qquad D=\mathbb{R}\setminus\{x=b\};\, a+b\neq 0$$

پ –

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\frac{a+x}{b-x}-\frac{b-x}{a+x}=\frac{2a^2-2b^2}{ab-ax+bx-x^2}\Rightarrow L=\left\{\frac{a-b}{2}\right\}$$

$$D=\mathbb{R}\setminus\{x=-a\,;\,x=b\};a+b\neq 0$$

ت –

$$2\left(\frac{7}{3}+4a\right)-4\left(-\frac{4}{3}+\frac{a}{2}\right)-6a=9\Rightarrow L=\varnothing$$

دريم :

$$x+2x+4x=21\Leftrightarrow x=3\Rightarrow L=\{3\}$$

خويندې(ورونه)درې، شپږ او دولس کاله عمر لري.

څلورم:

$$\frac{x}{10}+\frac{x}{15}=1\Leftrightarrow x=6\Rightarrow L=\{6\}$$

د اوبو لوښی به 6 دقيقو کې ډکيږي

پنځم:

$$\frac{x}{5}=\frac{9}{15}\Leftrightarrow x=3\Rightarrow L=\{3\}$$

. کيشتی په درې روځو کې ډکيږي.

شپږم:

$$x-15=3\left(\frac{x}{2}-15\right)\Leftrightarrow x=60\Rightarrow L=\{60\}$$

.پلار60 کلن او زوی 30 کلن دی.

اوم:

$$4x+2x+x=350\Leftrightarrow x=50\Rightarrow L=\{50\}$$

A B په € 200، B په € 100او C په € 50 ا دعا لري.

اتم:

$$24=2(b+2b)\Leftrightarrow b=4\Rightarrow L=\{4\}$$

د مسطيل ضلعې(اړخونه) 8 cm او 4 cm دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

نهم: $(a-6)(a+5)=a^2-45 \Leftrightarrow a=15 \Rightarrow L=\{15\}$

د مربع اړخ یا ضلعه 15 cm اوږده ده.

لسم: $\frac{1}{80}x+\frac{1}{90}x-\frac{1}{60}x=1 \Leftrightarrow x=144 \Rightarrow L=\{144\}$

ټانک به په 144 دقيقو کې ډک شي.

یولسم: $\frac{54}{60}\cdot 7+\frac{9}{10}x=\frac{72}{60}x \Leftrightarrow x=21 \Rightarrow L=\{21\}$

دوی له 21 دقيقو وروسته سره مخامخ کيږي.

مفصل حلونه:

لومړی:

الف-

$$\frac{a}{x}+\frac{b}{x}=m \mid \cdot x$$
$$\Leftrightarrow a+b=mx$$
$$\Leftrightarrow mx=a+b \mid : m$$
$$\Leftrightarrow \quad x=\frac{a+b}{m} \Rightarrow L=\left\{\frac{a+b}{m}\right\}; \quad m\neq 0; \quad D=\mathbb{R}^*$$

ب -

$$\frac{x}{a}-\frac{x}{2a}=m \mid HN=2a$$
$$\Leftrightarrow \frac{2x}{2a}-\frac{x}{2a}=m \mid \cdot 2a$$
$$\Leftrightarrow 2x-x=2am$$
$$\Leftrightarrow x=2am \Rightarrow L=\{2am\}; \qquad D=\mathbb{R}; a\neq 0$$

پ –

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\frac{ax}{b}-\frac{b}{ac}=\frac{a}{bc}-\frac{bx}{a}\,\Big|+\frac{bx}{a}+\frac{b}{ac}$$

$$\Leftrightarrow \underbrace{\frac{ax}{b}+\frac{bx}{a}}_{HN=ab}=\underbrace{\frac{a}{bc}+\frac{b}{ac}}_{HN=abc}$$

$$\Leftrightarrow \frac{a^2x}{ab}+\frac{b^2x}{ab}=\frac{a^2}{abc}+\frac{b^2}{abc}\,\Big|\cdot ab$$

$$\Leftrightarrow a^2x+b^2x=\frac{a^2}{c}+\frac{b^2}{c}$$

$$\Leftrightarrow \left(a^2+b^2\right)x=\frac{a^2+b^2}{c}\,\Big|:\left(a^2+b^2\right)$$

$$\Leftrightarrow x=\frac{1\left(a^2+b^2\right)}{c\left(a^2+b^2\right)}=\frac{1}{c}\Rightarrow L=\left\{\frac{1}{c}\right\};\quad c\neq 0;\quad D=\mathbb{R};a\neq 0;b\neq 0;c\neq 0$$

ت ـ

$$\frac{x}{a-b}+\frac{x}{a+b}=a\,|\,HN=(a-b)(a+b)$$

$$\Leftrightarrow \frac{(a+b)x}{(a-b)(a+b)}+\frac{(a-b)x}{(a-b)(a+b)}=\frac{a(a-b)(a+b)}{(a-b)(a+b)}\,\Big|\cdot(a-b)(a+b)$$

$$\Leftrightarrow (a+b)x+(a-b)x=a\underbrace{(a-b)(a+b)}_{\text{3. binomische Formel}}$$

$$\Leftrightarrow x\Big[(a+b)+(a-b)\Big]=a\left(a^2-b^2\right)$$

$$\Leftrightarrow x[a+b+a-b]\qquad=a\left(a^2-b^2\right)$$

$$\Leftrightarrow \qquad 2ax=a\left(a^2-b^2\right)\,\Big|:2a$$

$$\Leftrightarrow \qquad x=\frac{a^2-b^2}{2}\Rightarrow L=\left\{\frac{a^2-b^2}{2}\right\};$$

$$D=\mathbb{R};a-b\neq 0;a+b\neq 0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

د بينوم دريم فرمول

دويم: الف-

$$\frac{m-x}{a-b}-\frac{m+x}{a+b}=0 \mid HN=(a-b)(a+b)$$

$$\Leftrightarrow \frac{(m-x)(a+b)}{(a-b)(a+b)}-\frac{(a-b)(m+x)}{(a-b)(a+b)}=0 \mid \cdot(a-b)(a+b)$$

$$\Leftrightarrow (m-x)(a+b)-(a-b)(m+x)=0$$

$$\Leftrightarrow am-ax+bm-bx-[am+ax-bm-bx]=0$$

$$\Leftrightarrow \cancel{am}-ax+bm-\cancel{bx}-\cancel{am}-ax+bm+\cancel{bx}=0$$

$$\Leftrightarrow -2ax+2bm=0$$

$$\Leftrightarrow 2ax=2bm \mid 2a$$

$$\Leftrightarrow x=\frac{2bm}{2a}=\frac{bm}{a} \Rightarrow L=\left\{\frac{bm}{a}\right\}; \quad a\neq 0; \qquad D=\mathbb{R}; a-b\neq 0; a+b\neq 0$$

$$\frac{a-x}{b-x}-\frac{a-b}{a+b}=0 \mid +\frac{a-b}{a+b}$$

$$\Leftrightarrow \frac{a-x}{b-x}=\frac{a-b}{a+b} \mid \cdot(b-x)$$

$$\Leftrightarrow a-x=\frac{(a-b)(b-x)}{(a+b)} \mid \cdot(a+b)$$

$$\Leftrightarrow (a-x)(a+b)=(a-b)(b-x)$$

$$\Leftrightarrow a^2-\cancel{ax}+\cancel{ab}-bx=\cancel{ab}-\cancel{ax}-b^2+bx$$

$$\Leftrightarrow a^2-bx=-b^2+bx \mid -a^2$$

$$\Leftrightarrow -bx=-b^2-a^2 \mid : (-2b)$$

$$\Leftrightarrow x=\frac{-a^2-b^2}{-2b}=\frac{-(a^2+b^2)}{-2b}=\frac{a^2+b^2}{2b}$$

$$\Rightarrow L=\left\{\frac{a^2+b^2}{2b}\right\}; \quad b\neq 0; \qquad D=\mathbb{R}\setminus\{x=b\}; a+b\neq 0$$

ب –

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

پ –

$$\frac{a+x}{b-x}-\frac{b-x}{a+x}=\frac{2a^2-2b^2}{\underbrace{ab-ax+bx-x^2}_{(b-x)(a+x)}}\;|\cdot(b-x)(a+x)$$

$$\Leftrightarrow (a+x)(a+x)-(b-x)(b-x)=2a^2-2b^2$$

$$\Leftrightarrow a^2+2ax+\cancel{x^2}-b^2+2bx-\cancel{x^2}=2a^2-2b^2\;|-a^2+b^2$$

$$\Leftrightarrow 2ax+2bx \quad =a^2-b^2$$

$$\Leftrightarrow (2a+2b)x \quad =a^2-b^2\;|:2(a+b)$$

$$\Leftrightarrow x=\frac{a^2-b^2}{2(a+b)}=\frac{(a-b)\cancel{(a+b)}}{2\cancel{(a+b)}}=\frac{a-b}{2}$$

$$\Rightarrow L=\left\{\frac{a-b}{2}\right\} D=\mathbb{R}\setminus\{x=-a\,;\,x=b\};a+b\neq 0$$

ت –

$$2\left(\frac{7}{3}+4a\right)-4\left(-\frac{4}{3}+\frac{a}{2}\right)-6a=9$$

$$\Leftrightarrow \frac{14}{3}+8a+\frac{16}{3}-2a-6a \quad =9$$

$$\Leftrightarrow 8a-2a-6a+\frac{14}{3}+\frac{16}{3} \quad =9$$

$$\Leftrightarrow 0\cdot a+\frac{30}{3} \qquad =9\;|-10$$

$\Leftrightarrow 0\cdot a=-1$ تضاد. له دې لاس ته راځي $L=\{\ \}$

دریم –

درې خوېندې او ورونه ګډ 21 کاله عمر لري. A دوه واره دومره عمر لري لکه B او C فقط نیم دومره عمر لري لکه B . دا خوېندې ورونه هر یو څومره عمر لري؟

اینووونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

درې خویندې ورنه ګډ 21 کاله عنر لري:

A + B + C = 21 (1)

A دوه واه ومره عمر لري لکهB :

A = 2B (2)

C فقط نیم دومره عمر لري لکهB ؛

C = B/2 (3)

له دې سره دا نامعلومه اووښتونې یا متحوله B ده.

له مساوات (1) څخه لرو:

A = 2B (2):

$$2B + B + \frac{B}{2} = 21$$
$$\Leftrightarrow \frac{7}{2}B = 21 | \cdot \frac{2}{7}$$
$$\Leftrightarrow B = \frac{21 \cdot 2}{7} = 6 \Rightarrow L = \{6\}$$

له (2)او (3) څخه لاس ته راځي:

A = 2B = 12. B = 6 و شمیرل شو:C = B/2 = 3

خویندې ورونه 12 ، 6 او3 کاله عمر لري.

څلورم –

یو د اوبو لوښی د دوه نلونو سره ډک شي. لومړی دا په لس دقیقو کې ډکوي او دویم یې په ۱۵ دقیقو کې. دا به کله ډک شی که دواړه نلونه په یوه وخت کې واز شي؟

اینوونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

لومړی ډنډ په یوه دقیقه کې1/10 ډکوي.

دویم نل دا لوښی په یوه دقیقه کې 1/15 ډکوي.

وخت په دقیقه غواړو پیدا کړو، نو اووښتوني یا متحولهx .

$$\left(\frac{1}{10}+\frac{1}{15}\right)x=1 \Leftrightarrow \left(\frac{3}{30}+\frac{2}{35}\right)x=1$$

$$\Leftrightarrow \frac{5}{30}x=1|\cdot\frac{30}{5} \Leftrightarrow x=6 \Rightarrow L=\{6\}$$

د اوبو لوښی په6 دقیقو کې ډکیږي.

پنځم –

یوه کیشتی د نهو کښتۍ کارګرو څخه په پنځه ورځو کې تشیږي. ۱۵کسان به د همغه کار ساعتونو کې څو ورځو ته اړتیا ولري

د دري جملي له لارې حل:

۹ کار ګر ۵ ورځو ته اړتیا لري

۱۵ کارګر x ورځو ته اړتیا لري

---

۹ کار ګر ۵ ورځو ته اړتیا لري

۱ کار ګر ۹ – ځله زیات وخت

۱۵ کار ګر ۱۵-مه برخه وخت ته اړتیا لري. یعنې

$$x=\frac{5\,\text{Tage}\cdot 9}{15}=3\,\text{Tage}$$

ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

کيبنتی په ۳ ورځو کې تشيرږي.
شپږم –

پلار او ځوی څومره عمر لري که پلار د ځوي دوه واره زيات عمر ولري او15 کاله پخوا يې درې واره دومره عمر لاره لکه ځوي؟

ايبنوونه:

پلار y کاله عمر لري او ځوي x کاله عمر.

پلار ن دوه واره دومره لوی دی لکه ځوي: $y = 2x$

۱۵ کاله د مخه پلار ۳ واره ډېرعمر لاره لکه ځوي:

$$y - 15 = 3(x - 15) \,|$$

د y لپاره 2x ځاي په ځای کيږي

$$\Leftrightarrow 2x - 15 = 3(x - 15)$$
$$\Leftrightarrow 2x - 15 = 3x - 45 \,|\, -2x + 45$$
$$\Leftrightarrow 30 = x \Leftrightarrow x = 30 \Leftrightarrow L = \{30\}$$

متحوله x د ځوی د عمر لپاره دی.

ځوی ۳۰ کلن دی، پلار ۶۰ کاله عمر لري.

اوم:
درې ملګري په ګډه € -,350 سپما کړي. A دوه واره دومره لکه B او C دB نيمايي.
له دوی هر يوه څو سپما کړي؟

ږدو: دا ملګري په ګډه:€ 350 لري .

$$A + B + C = 350 \quad (1)$$

A دوه واره دومره لکه B:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

A = 2B (2)

C نيم دومره لکه B :

C = B/2 (3)

مساوات داسې ليکل کيږي، چې B د حل متحوله وي.

$$2B + B + \frac{B}{2} = 350$$
$$\Leftrightarrow \frac{7}{2}B = 350 \,|\cdot \frac{2}{7}$$
$$\Leftrightarrow B = \frac{350 \cdot 2}{7} = 100 \Rightarrow L = \{100\}$$

A = 2B = 200 €, B = 100 €, C = B/2 = 50 €.

A 200,- €، B 100,- € او C 50,- € سپما کړي دي.

اتم –

د يوه ولاړګوډيز اړخونه څومره لوي دي، که چاپيری يا محيط يې24 cm وي، او يو اړخ يې نسبت بل اړخ ته دوه واره لوی وي؟

ړدو:

د يوه ولاړګوډيز يا مستطيل محيط

U =2a + 2b = 24

يو اړخ نسبت بل ته دوه واره لوی دی:

a = 2b

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

له دې څخه لاندې برابرونونه منځ ته راتلای شي:

$U=2a+2b$ د $U=24$ او $2=2b$ سره

$$\Leftrightarrow 24 = 2 \cdot 2b + 2b$$
$$\Leftrightarrow 6b = 24 \,|:6$$
$$\Rightarrow b = 4 \Rightarrow L = \{4\}$$

د b اړخ 4 cm اوږد دی. د $a = 2b$ له امله د a اړخ 8 cm اوږد دی.

د ولاړ ګوډیزاړخونه 8 cm او4 cm دي.
نهم –

د یوې څلورۍ یا مربع یو اړخ په 6 cm کوچنی کېږي او بل اړخ په 5 cm لوییږي، د منځ ته راغلي مستطیل سطحه په $45\ cm^2$ نسبت مربع ته کوچنۍ کېږي. د څلورۍ اړخونه څومره لوی دي؟

ډدو:

د مربع یا څلورۍ سطحه ده:

$A_Q = a^2$

د ولاړګوډیز یا مستطیل سطحه ده:

$A_R = ab$

د مربع اړخ په 4 cm لنډیږي. او په ولاړګوډي کې باید وي:

a - 4

د مربع اړخ a په 5 cm اوږدیږي او په ولاړګوډیز یا مستطیل کې باید5 cm وي.

د مستطیل سطحه نسبت مربع ته په $45\ cm^2$ کوچنۍ شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$A_R = A_Q - 45$

د حل متحوله یا اووښتونېa ده. له دې سره لاندې برابرونونه لیکلی شو:

$$A_Q - 45 = (a-6)(a+5) \text{ mit } A_Q = a^2 \text{ wird:}$$
$$\Leftrightarrow a^2 - 45 = (a-6)(a+5)$$
$$\Leftrightarrow \cancel{a^2} - 45 = \cancel{a^2} + 5a - 6a - 30$$
$$\Leftrightarrow -45 = -a - 30 \mid +a + 45$$
$$\Leftrightarrow a = 15 \Rightarrow L = \{15\}$$

دا چې د a متحوله د مربع لپاره ده، باور لري:

د مبع اړخ 15 cm دی.

لسم-

یو ټانک دوه د ننوتو نلونه A اوB او یو د وتو نل C لري. A ځانله ټانک په 80 min کې ډکوي، B ځانله په 90 min . دC سره ځاله ټانک په 60 min کې تشیږي. دا ټانک په څومره وخت کې ډکیږي، که دریواړه نلونه په همغه یو وخت کې په کار واچول شي یعنې واز وي؟

ږدو یا لیکو:

لومړی نل (A)په یوه دقیقه کې ټانک 1/80 ډکوي

دویم نل (B)په یوه دقیقه کې ټانک 1/90 ډکوي

دریم نل (C) په یوه دقیقه کې ټانک 1/60 تشوي.

وخت په دقیقه غواړو بیدا کړو، چې په هغه کې ټانک ډکیږي یعنې اووښتونې یا متحوله x .

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\left(\underbrace{\frac{1}{80}+\frac{1}{90}-\frac{1}{60}}_{HN=720}\right)x=1$$
$$\Leftrightarrow\left(\frac{9}{720}+\frac{8}{720}-\frac{12}{720}\right)x=1$$
$$\Leftrightarrow\frac{5}{720}x=1\,|\cdot\frac{720}{5}$$
$$\Leftrightarrow x=144\Rightarrow L=\{144\}$$

دا ټانک په 144 دقیقو کې ډکیږي.
یولسم –

دوه دریوران A اوB هرا ورځ کار ته په موټرو کې ځي. A په ساعت کې په منځنۍ توګه54 km لار وهي اوB 72 km . دB د روانیدو څو دقیقې روسته به دواړه موټر یوځای شي، که A 7 min د مخه خوزیدلې وي او دواړه همغه لار باید ووهي؟

ږدو یا لیکو:

دا چې د دقیقو پوښتل شوي دي، مګر چټکتیا یا سرعت پهkm/h ورکړ شوی دی، دا به په km/Minute واړول شي:

موټر A د لاندې چټکتیا سره ځي.

$V_A = 54/60 = 0,9$ (in km/Minute)

موټر B د لاندې چټکتیا سره ځي.

$V_B = 72/60 = 1,2$ (in km/Minute)

غواړو د دریور B په دقیقو د تګ وخت $t_B$ پیدا کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

دريور A د B څخه 7 Minuten دقيقې له مخه خوزي، دا نو له دې امله اوه دقيقې زيات په لار دی يعني $t_B+7$ .

موخه ټکي ته لار د دواړو لپاره برابره ده.

| | |
|---|---|
| د A لپاره د لار برابرون: | $A: s_A = V_A(t_B+7)$ |
| د B لپاره د لار برابرون: | $B: s_B = V_B \cdot t_B$ ! |

پورته سره برابر کيږدی

د $t\ V_A = 0{,}9\frac{km}{Minute}$ او $V_B = 1{,}2\frac{km}{Minute}$ سره لرو:

$$1{,}2 \cdot t_B = 0{,}9 \cdot (t_B+7)$$
$$\Leftrightarrow 1{,}2 \cdot t_B = 0{,}9t_B + 6{,}3 \mid -0{,}9t_B$$
$$\Leftrightarrow 0{,}3t_B = 6{,}3 \mid : 0{,}3$$
$$\Leftrightarrow t_B = 21 \Rightarrow L = \{21\}$$

دا د 21 دقيقو وروسته سره يوځای کيږي

## پوښتنې

## کرښيز مساوات IV

کرښيزمساواتو ته ګډوله پوښتنې

لومړی – دا مساوات x پسې حل کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

الف - $20x-3(5x+7)=-2(3-x)$ ب - $5x-(8+9x)=12$

پ - $(2x-3)(x-3)=(x-1)(2x-8)+6$ ت - $6x+5k=4x+9k$

ټ - $k^2x=-x+k^2+3$ ث - $\frac{x}{18}-\frac{5}{2}=\frac{3x+5}{8}-6$

دویم –

د ا مساوات x پسې حل کړی.

الف - $\frac{2x}{3}-5=-\frac{5x}{6}-2$ ب - $\frac{x}{3}-5=\frac{x}{5}-3$

پ - $4-\frac{x-5}{4}=\frac{x+1}{2}-\frac{x-3}{3}$ ت - $\frac{x}{k}+kx=5;k\neq 0$

دریم – دk په واکوالی یا تابعیت کې د ځوابونو تعداد و ټاکئ.

الف - $3k(x-2)+k-2x=3k+2$ ب - $2(kx-2)-2(x-2)=k^2-1$

پ – $\frac{k}{2}x+2k+1=\frac{1}{2}x+4$ ت – $2k(x-k)-(k-x)=0$

ټ - $k^2x+1=2-x$ ث - $\frac{kx+1}{2}-\frac{k(x-2)}{3}+\frac{x(2-3k)}{6}=1$

څلورم – د a د کومي ټاکني لپاره مساوات تیک یو، هیڅ، او یا زیات حلونه لري؟

الف - $\frac{ax+2}{2}=3x$ ب - $ax-3=2x+1$

پ - $6-ax=2-(a-3)x$ ت - $-2x+9+2ax=1+8a$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

پنځم – د x پسې يې حل کړئ: (1-a)x = b-2

د a او b ترمنځ به کومې اړيکې شتون ولري يا اړيکې ټينګې وي، که x = 2 حل وي؟

شپږم –

| | |
|---|---|
| د دې ترڅنګ مساوات څخه نور مختلف مساوات(برابرونونه) جوړ کړئ، چې همدا حل ولري. | $2x-\frac{1}{3}=0$ |

اوم – د يو بل پسې 5 طبيعي اعدادو جمعه(زياتون) 460 دی. لوی عدد پيداکړئ.

اتم – د دوه يو بل پسې طبيعي اعدادو د مربعو کمون يا تفريق 55 دی. دواړه عددونه پيدا کړئ.

نهم – يو ديوال کيدی شي د 54 لړيو ( يو بل باندې قطار) خښتو څخه چې جګوالی يې x دی جوړيږي. يو خټګر که په 1,6 cm جګې خښتې وکاروي، نو دی فقط 45 د خښتو لړيو ( يو په بل د خښتو قطارونو) ته اړ دی. د x جګوالی وشمېرئ.

لسم – يو شي پوښتنې پيدا کړئ، چې د کرښيز مساوات په مرسته حل کيږي.

## ځوابونه

## کرښيز مساوات IV

کرښيزمساواتو ګډوله پوښتنو ته ځولابونه
نتيجې
لومړی –
الف - $20x-3(5x+7)=-2(3-x)\Rightarrow x=5$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ب - $5x-(8+9x)=12 \Rightarrow x=-5$

پ - $(2x-3)(x-3)=(x-1)(2x-8)+6 \Rightarrow x=5$

ت - $6x+5k=4x+9k \Rightarrow x=2k$

ټ - $k^2x=-x+k^2+3 \Rightarrow x=\frac{k^2+3}{k^2+1}$

ث - $\frac{x}{18}-\frac{5}{2}=\frac{3x+5}{8}-6 \Rightarrow x=9$

دویم –

الف - $\frac{2x}{3}-5=-\frac{5x}{6}-2 \Rightarrow x=2$

ب - $\frac{x}{3}-5=\frac{x}{5}-3 \Rightarrow x=15$

پ - $4-\frac{x-5}{4}=\frac{x+1}{2}-\frac{x-3}{3} \Rightarrow x=9$

ت - $\frac{x}{k}+kx=5;\, k\neq 0 \Rightarrow x=\frac{5k}{k^2+1}$

دریم –

الف - $3k(x-2)+k-2x=3k+2 \Rightarrow x=\frac{8k+2}{3k-2}$ د $k\neq\frac{2}{3}$ لپاره او د $k=\frac{2}{3}$ لپاره حل نه شته.

ب - $2(kx-2)-2(x-2)=k^2-1 \Rightarrow x=\frac{k+1}{2}$ für $k\neq 1$ $x\in\mathbb{R}$ für $k=1$ د لپاره او د لپاره حل نه شته.

پ - $\frac{k}{2}x+2k+1=\frac{1}{2}x+4 \Rightarrow x=\frac{6-4k}{k-1}$ د $k\neq 1$ لپاره او د $k=1$ لپاره حل نه شته.

ت - $2k(x-k)-(k-x)=0 \Rightarrow x=k$ für $k\neq-\frac{1}{2}$ $x\in\mathbb{R}$ für $k=-\frac{1}{2}$ د لپاره او د لپاره حل نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ټ - $k^2x+1=2-x \Rightarrow x=\frac{1}{k^2+1}$ für $k \in \mathbb{R}$ د لپاره او د لپاره حل نه شته.

ث - $\frac{kx+1}{2}-\frac{k(x-2)}{3}+\frac{x(2-3k)}{6}=1 \Rightarrow x=\frac{4k-3}{2k-2}$ د $k \neq 1$ لپاره او د k=1 لپاره حل نه شته.

څلورم –

الف – $\frac{ax+2}{2}=3x \Rightarrow$ له دې لاس ته راځي، چې ټیک یو حل $x=-\frac{2}{a-6}$ د $a \in \mathbb{R}\setminus\{6\}$ لپاره او د a = 6 لپاره حل نه شته.

ب – ax – 3 = 2x +1 له دې لاس ته راځي ټیک یو حل $x=\frac{4}{a-2}$ د $a \in \mathbb{R}\setminus\{2\}$ لپاره او د a=2 لپاره حل نه شته.

پ- $6-ax=2-(a-3)x \Rightarrow x=\frac{4}{3}$ د $a \in \mathbb{R}$ لپاره .

ت - -2x +9+ax = 1+8a له دې لاس ته راځي، چې د4=x لپاره ټیک یو حل او ناپای ډېر حلونه د $a \in R\setminus\{1\}$; a=1 لپاره .

پنځم - $x=\frac{b-2}{1-a}$ د $a \neq 1$ لپاره د x=2لپاره لاس ته راځي
$2=\frac{b-2}{1-a} \Leftrightarrow 2(1-a)=b-2 \Rightarrow a=2-\frac{b}{2}$

شپږم - $\left(2x-\frac{1}{3}\right)a=0$ د $a \neq 0$ لپاره .

(c) ketabton.com: The Digital Library



$x+(x+1)+(x+2)+(x+3)+(x+4)=460 \Leftrightarrow 5x+10=460 \Rightarrow x=90$

اوم - $\Rightarrow x+4=94$

اتم - $(n+1)^2-n^2=55 \Rightarrow n=27$ او $n+1 = 28$

نهم - $54x=45(x+1{,}6) \Rightarrow x=8$

لسم –

بېلګه :

- په کوم صفرواتېن کې یا صفر لار کې موټر له ګاډی ارزان دی؟

- د صفرلار او مصرف کېدی شي په یوه کرښیزو اړیکو کې یو بل سره راشي.

- کرښیز Abschreibung یا د برېښنا لګښت.

پوښتنې

کرښیز مساواوات **V**

په جملو او شي پوښتنې

لومړی – لاندې مساوات حل کړی او د حل ست(ډېرۍ) یې وټاکی.

الف - $20(a+6b)+24(40-2a-5b)+7(4a)-960=0$

ب - $2(1+r)-(1+2r)+1=0$

دویم – د تعریفست( -ورشو) او حلست( حلډېرۍ) و ټاکی.

$$\frac{2k}{k+4}\left[4+k(4+k)\right]+\frac{k}{4}(-4-8k)=\frac{4k-k^2}{k+4}$$

دریم – مساوات ورکړ شوي دي: $\sqrt{-2x}=-1;\ x<0$

دریا لاندې د حل.لار وړاندې کوي: مربع کړی:

$\Rightarrow -2x=1 \Leftrightarrow x=-0{,}5$

خپل موقف دې ته څرګند کړه.

څلورم – مساوات $5x=x;G=R$ورکړ شوي دي.

لاروی حل کوي: $5x = x\ |x \Leftrightarrow 5=1$ وینا ناټیک ده.

لاروی کره کوي: مساوات حل نه لري. ناټیکاوی چېرته غلی دی؟ د دې لپاره مو مقف روښانه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم – د پمپ A سرره ډنډ په يوه ساعتکي ډکيږي. د پمپ B سره په دوه ساعته کې، بمپ C سره په درې ساعته او پمپ D سره په څلور عاسعتونو کې. که ټول نلونه يو ځای واز شي، نو دا ډنډ به په څومره وخت کې ډک شي؟

شپږم – په يوه ولاړکوډيز ( مستطيل) کې يو اړخ(ضلعه) له بل اړخ ( ضلعې) 10 m اوږد دی. اوږد اړخ په 25 m او لنډ اړخ په 15 m لنډيږي. له دې سره د مستطيل سطحه په $1000\ m^2$. کوچنی کيږي. دا لومړی مستطيل څومره لوی وو؟

اوم – يو انتيکپلورونکی په درې روڅو کې 1/4 ;1/8 همداسې 1/3 ممکنه خرڅلاو کړی دی. د بازار پای کې د 875 €. پيسو مال ورسره پاتې کيږي. که چيرې ټول مال يې خرڅ شوی وی، نو ده به د څومره پيسو مال خرڅ کړی وی؟

اتم – يوه کوڅه اوږده ده. دا د يوه پېچومي( جګوالي) ، يوه ونوکوڅې او يوه پله څخه جوړه ده. د ونو کوڅه پنځه ځله او پېچړمی 14,5 ځله دومره اوږددی لکه پل. پل څومره اوږد دی؟

نهم – يو درېګودی ( مثلث) 43 cm محيط ( چاپېری) لري. دb اړخ 2 cm اوږد دی نسبت د a اړخ ته او د c اړخ نسبت د b اړخ ته 12 cm اوږد دی. هر اړخ ( هره ضلع) څومره اوږد دی؟

لسم – يوه ولاړکوډيز يا مستطيل ډوله کوټه د نامعلوم اوږدوالي a سره يوه د 10 m سروره b لري. که a او b په 1 m لنډ شي، نو د متطيل سطحه به $15\ m^2$ کمه شي. د a اوږدوالی څومره دی؟

ځوابونه

کرښيز مساوات **V**

نتيجې

لومړی –

الف - $20(a+6b)+24(40-2a-5b)+7(4a)-960=0 \Rightarrow L=\mathbb{R}$

ب - $2(1+r)-(1+2r)+1=0 \Rightarrow L=\varnothing$

دويم – تعريف ست( -ډېری) : $D=\setminus\{-4\}$ حلډېری : $L=\mathbb{R}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم – $L = \varnothing$ ځکه چي د ريښي نتيجه تل مثبت (زياتيزه) ده
مربع کونه ورته بڼه بدلون نه دی.

څلورم – $5x = x \Leftrightarrow 5x - x = 0 \Leftrightarrow x(5-1) = 0 \Leftrightarrow x = 0$

$x = 0$ حل دی. په x وېشنه هلته ممکنه ده چي $x \neq 0$ وي.

پنځم –

$$x + \frac{1}{2}x + \frac{1}{3}x + \frac{1}{4}x = 60 \Rightarrow x = 28,8\,min$$

شپږم –

$$x(x+10) - 1000 = (x-15)^2 \Rightarrow x = 30,625m \Rightarrow A = 1244,14\,m^2$$

اوم -

$$\frac{1}{8}x + \frac{1}{4}x + \frac{1}{3}x + 875 = x \Rightarrow x = 3000$$

اتم –

$$14,5x + 5x + x = 984 \Leftrightarrow x = 48 \Rightarrow L = \{48\}$$

پول 48 m اوږددی.

نهم –

$$a + (a+2) + (a+2+12) = 43 \Leftrightarrow a = 9 \Rightarrow L = \{9\}$$

د مثلث اړخونه 9cm, 11 cm او 23 cm اوږده دي.

لسم –

$$a \cdot 10 = (a-1)(10-1) + 15 \Leftrightarrow a = 6 \Rightarrow L = \{6\}$$

د a اړخ يا ضلع 6 m دی.

پوښتني

## کربنيز نامساوات I

ګډوله او شي ډوله پوښتني

لوموړی- لاندي نامساوات حل کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

الف - $\frac{2-x}{3}+5\ge\frac{x}{2}$ ب - $-\frac{1}{2}(x-6)<6$ پ - $3(x-3)\ge5\left(1-\frac{x}{2}\right)$

دویم – لاندې نامساوات حل کړی

الف - $\frac{1}{3}x-5\le\frac{1}{4}x+3$ ب- $\frac{1}{2}(x-5)>0$ پ - $2x+\frac{5}{2}<-(3+4x)-3$

دریم – لاندې نامساوات حل کړی

الف - $\frac{x}{5}+3\ge\frac{x}{2}$ ب - $-3<2(x-2)<5$ پ - $x\cdot e-x>100$

څلورم - لاندې نامساوات حل کړی

الف - $3(1-2x)-2>2(x-3)-(3x+5)$ ب - $\frac{2x-3}{2}-\frac{1}{4}(3x-5)\le-1$

پنځم – لاندې نامساوات حل کړی

الف - $\frac{3}{4}(2x-4)+\frac{3}{2}x-4<5(1-x)-2x-6$ ب - $4-\frac{2x}{3}\ge\frac{x}{4}$

شپږم – د a په واکوالي (تابعیت)کې ځوابونه وټاکی.

الف - $ax+3<7-a$ ب - $a(x-3)>2x$ پ - $a-4(x-2)<2(a-3)$

اوم – بیمه A هغه 90% تاوان ورکوي، چې په € 300 کم شوی،دB بیمه 85% تاوان په غاړه اخلي چې په € 200کم شوی وي. د برابرې کلنی جایزې سره دB بیمه څومره ارزانه ه؟

اتم – یو زده کوونکی نا مساوات $\frac{1+x}{-2}>1$ په لاندې ډول حل کوي:

$1+x>-2\Leftrightarrow x>-3$ د x=-1 سره ازماښت یوه ناټیک ویناورکوي. ناټیکاوی چېرته پروت دی؟

نهم – د کوم مثبت x -ارزښت لپاره $\frac{2x+1}{x}<2{,}001$ ? باور لري؟

لسم – ترم K = 0,85 x + 24 د یوه جنس xد دانو یا ټوټو تولید قیمت راکوي. خرڅلاو یې د مساوات E = 1,45 x سره شمېرل کیږي. د کوم ټوټه تعداد د خرڅلاو سره فیرما ګټه کوي؟

یولسم – د برېښناپلورونکی A دx kWh لپاره میاشتني مصارف په € کېدی شي د $K_A(x) = 0{,}195\,x + 21{,}35$ له لارې کېدی شي وشمېرل شي، د B پلورنوکي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$K_B(x) = 0,265\,x + 18,45$ مساوات له لارې شمېرل کيږي. د کوم مصرف لپاره
د$B$ برېښنا پلورونکی ارزانه دی؟

## ځوابونه

### کربنیز نامساوات I

نتيجې

لومړی –

الف ـ $-\infty < x \le \frac{34}{5}$ ب ـ $-6 < x < \infty$ پ ـ $x \ge \frac{28}{11}$

دويم -

الف ـ $-\infty < x \le 96$ ب ـ $5 < x < \infty$ پ ـ $-\infty < x < -\frac{17}{12}$

دریم –

الف ـ $-\infty < x \le 10$ ب ـ $\frac{1}{2} < x < \frac{9}{2}$ پ ـ $\frac{100}{e-1} < x < \infty$

څلورم -

الف ـ $-\infty < x < \frac{12}{5}$ ب ـ $-\infty < x \le -3$

پنځم –

الف ـ $-\infty < x < \frac{3}{5}$ ب ـ $-\infty < x \le \frac{48}{11}$

شپږم –

الف ـ

$L = \mathbb{R}$ für $a = 0$

$-\infty < x < \frac{4-a}{a}$ د $a>0$ لپاره $\frac{4-a}{a} < x < \infty$ د$a<0$ لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



--------------------------------------------------------------------------------

د a=0 لپاره L=R

ب –

د a>2 لپاره $x > \frac{3a}{a-2}$ د a<0 لپاره $x < \frac{3a}{a-2}$ د a=2 لپاره حل نه شته

پ - د $a \in \mathbb{R}$ لپاره $x > -\frac{a}{4}+\frac{7}{2}$

اوم – د زیان جمعهx:

$$0{,}9(x-300) < 0{,}85(x-200) \Rightarrow x < 2000$$

B د یوه زیان تر € 2000 پورې ښه دی.

اتم – دا باید وي $1+x < -2 \Rightarrow L = \{x \mid -\infty < x < -3\}_{\mathbb{R}}$

د 2- سره ضرب دا د نامساوات نخښنه ګرځوي یا په څت کوي

نهم - $x > 1000 \vee x < 0$

لسم – اینبونه: $G = E-K \Leftrightarrow 1{,}45x - 0{,}85x - 24 > 0 \Leftrightarrow x > 40$

له 40 < x وروسته فیرما ګټه کړی شي

یولسم – تر 41,4 kWh B ارزان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 1.8 مات – یا کسري مساوات

د کسري مساواتو حلونه

کسري مساوات ټیک همداسې لکه کرښيز مساوات د بڼه بدلون له لارې حل کیږي. مګر لومړی له هر څه باید تعریفورشو وټاکل شي. بنسټیز دي - که بله نه وي ورکړ شوي- IR وي. تعریف ورشو د متحولې ارزښتونه په بر کې لري، د کومو لپاره چې مساوات

اعتبار لري. د تعریف ورشو د ټاکلو لپاره دې توپیر وشي، چې د کوم ارزښت لپاره مخرج(ماتلاندې) صفر کیږي. ټیک همدا ارزښتونه تعریفورشو پورې اړه نه لري.

بیلګه: $\frac{4+x}{x-2} = 6 \quad \Rightarrow$

له دې لاس ته راځي تعریفورشو: D=R\{2}،ځکه چې په صفرسره وېشنه اجازه نه لري.

بیلګه:

$$
\begin{aligned}
& \frac{4+x}{x-2} && = && 6 && | \cdot (x-2) \\
\Leftrightarrow \quad & 4+x && = && 6\cdot(x-2) && \\
\Leftrightarrow \quad & 4+x && = && 6x-12 && | -6x \\
\Leftrightarrow \quad & 4-5x && = && -12 && | -4 \\
\Leftrightarrow \quad & -5x && = && -16 && | : (-5) \\
\Leftrightarrow \quad & x && = && \frac{16}{5} && \text{da } x \in D \Rightarrow L = \left\{\frac{16}{5}\right\}
\end{aligned}
$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

بيلګه:ځکه چي د x=-3 لپاره لومړی مخرج صفر کيږي،دx=1 لپاره دويم مخرج صفر کيږي.

اصلي مخرج(x+3)(x-1)

$$\frac{5(x-1)}{(x+3)(x-1)}+\frac{1(x+3)}{(x+3)(x-1)} = 0 \qquad |\cdot(x+3)(x-1)$$

$$\begin{aligned}
\Leftrightarrow\ & 5(x-1)+(x+3) &= 0 & \\
\Leftrightarrow\ & 5x-5+x+3 &= 0 & \\
\Leftrightarrow\ & 6x-2 &= 0 & \quad |+2 \\
\Leftrightarrow\ & 6x &= 2 & \quad |:6 \\
\Leftrightarrow\ & x &= \frac{2}{6}=\frac{1}{3} & \quad da\ x\in D \Rightarrow \underline{\underline{L=\left\{\frac{1}{3}\right\}}}
\end{aligned}$$

بيلګه: $\frac{x}{x+1}+\frac{4}{x-1}=\frac{x}{x-1} \qquad D=\mathbb{R}\setminus\{-1;\,1\}$ اصلي مخرج(x+1)(x-1)

$$\frac{x(x-1)}{(x+1)(x-1)}+\frac{4(x+1)}{(x-1)(x+1)} = \frac{x(x+1)}{(x-1)(x+1)} \qquad |\cdot(x-1)(x+1)$$

$$\begin{aligned}
\Leftrightarrow\ & x^2-x+4x+4 &= x^2+x & \\
\Leftrightarrow\ & 3x+4 &= x & \quad -x \\
\Leftrightarrow\ & 2x+4 &= 0 & \quad |-4 \\
\Leftrightarrow\ & 2x &= -4 & \quad |:2 \\
\Leftrightarrow\ & x &= -2 & \quad da\ x\in D \Rightarrow \underline{\underline{L=\{-2\}}}
\end{aligned}$$

وروسته له دي چي دواړه مساوات په اصلي مخرج راوړل شوي دي، نو په پای کي د اصلي مخرج سره ضرب مو دي ته بيايي، چي نور نو کسرونه نه لرو.

بيلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\frac{a-x}{b-x}-\frac{a-b}{a+b}=0 \quad D=\mathbb{R}\setminus\{x=b\};\ a+b\neq 0$$

اصلي مخرج: (b-x)(a+b)

$$\begin{aligned}
\frac{(a-x)(a+b)}{(b-x)(a+b)}-\frac{(a-b)(b-x)}{(a+b)(b-x)} &= 0 \qquad |\cdot(b-x)(a+b)\\
\Leftrightarrow (a-x)(a+b)-(a-b)(b-x) &= 0\\
\Leftrightarrow a^2+ab-ax-bx-\left[ab-ax-b^2+bx\right] &= 0\\
\Leftrightarrow a^2+\cancel{ab}-\cancel{ax}-bx-\cancel{ab}+\cancel{ax}+b^2-bx &= 0\\
\Leftrightarrow a^2-2bx+b^2 &= 0 \qquad |-a^2-b^2\\
\Leftrightarrow -2bx &= -a^2-b^2 \qquad |:(-2b)\\
\Leftrightarrow x &= \frac{a^2+b^2}{2b} \Rightarrow
\end{aligned}$$

$$\Rightarrow L=\left\{\frac{a^2+b^2}{2b}\right\};\ b\neq 0$$

كه ښى اړخ فقط له ارزښت صفر څخه جوړ وي، نو كينه لور په اصلي مخرج راوړو. دلته مو هم د اصلي مخرج سره ضربونه دې ته بيايي، چې نور نو كسرونه نه لرو. مګر دا دې په پام كې نيول شوي وي، چې ماتكربنه په نوكانو كې وليكل شي. كه د كسر وړاندې يوه منفي يا كميزه نخښه شتون ولري، نو د كسرونو د له منځه تلنې سره دې د صورت ترم د منفي نوكانو يا قوسونو سره وليكل شي.

د معكوس ارزښتجولو سره چلول:

| | |
|---|---|
| په څنو حالتونو كيدى شي د معكوس ارزښت جوړولو له لارې شميرنه ساده شي. | $\frac{2}{x+1}=\frac{4}{x-2}\ \vert$ <br> د معكوس ارزښت جوړول D=R\{-1,2} <br> $\Leftrightarrow \frac{x+1}{2}=\frac{x-2}{4} \quad HN=4$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

| | |
|---|---|
| دا په ځانګړې توګه هلته باورلري، چې د کسرونو صورتونه یا ماتباندي له اعدادو جوړ وي | $\Leftrightarrow \frac{2x+2}{4} = \frac{x-2}{4} \mid \cdot 4$ <br> $\Leftrightarrow 2x+2 = x-2 \Leftrightarrow x = -4 \Rightarrow L = \{-4\} \in D$ |
| ردبدل ضرب سره چلول: | $\frac{4}{x+2} = \frac{3}{5x-4} \Rightarrow D = \mathbb{R} \setminus \left\{-2; \frac{4}{5}\right\}$ |
| ضرب کيدی شي د اتيران نخښني – یا ردبدل ضرب سره هم لند شي. | $\frac{4}{x+2} = \frac{3}{5x-4}$ <br> ردبدل یا اتیران ضرب |
| له دي سره د لومړي کسر مخرج د د دويم کسر له صورت سره ضربيږي او همداسي د دويوم کسر مخرج د لومړي مسر د صورت سره ضربيږي. ضرب کيدی شي د اتيران نخښني – یا ردبدل ضرب سره هم لند شي. دا مګر تيک هلته شونی دی، که کسري مساوات دا په څنګ کي لرلي بنه ولري | $\Leftrightarrow 4(5x-4) = 3(x+2)$ <br> $\Leftrightarrow 20x-16 = 3x+6 \mid -3x+16$ <br> $\Leftrightarrow 17x = 22 \mid 17 \Leftrightarrow x = \frac{22}{17}$ <br> $\Rightarrow L = \left\{\frac{22}{17}\right\}$ <br><br> $\frac{2}{x+1} = \frac{4}{x-2} \Leftrightarrow \frac{x+1}{2} = \frac{x-2}{4}$ |

د معکوس ارزښت جوړولو لپاره ساده ښوونه:

غوښتنه(ثبوت): ښوونه د ساده ورته بنه بدلون له لارې صورت نیسي.

$$\frac{2}{x+1} = \frac{4}{x-2} \mid \cdot (x+1) \Leftrightarrow 2 = \frac{4(x+1)}{x-2} \mid \cdot (x-2)$$

$$\Leftrightarrow 2(x-2) = 4(x+1) \mid : 8 \Leftrightarrow \frac{1}{4}(x-2) = \frac{1}{2}(x+1)$$

څه مو چي ښوول، $\Leftrightarrow \frac{x-2}{4} = \frac{x+1}{2} \Leftrightarrow \frac{x+1}{2} = \frac{x-2}{4}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



-----------------------------------------------------------------------------------

بيلګه: $\frac{1}{x}+\frac{2}{x-2}=0 \quad \Rightarrow$

تعريفورشو:D=R\{0,2}

$\frac{1}{x}+\frac{2}{x-2}=0\,|-\frac{2}{x-2} \Leftrightarrow \frac{1}{x}=-\frac{2}{x-2}\,|$ د معکوس ارزښت جوړونه

$$\Leftrightarrow x=-\frac{x-2}{2}\,|\cdot 2 \Leftrightarrow 2x=-(x-2) \Leftrightarrow 2x=-x+2\,|+x$$

$$\Leftrightarrow 3x=2\,|:3 \Leftrightarrow x=\frac{2}{3} \text{ da } x\in D \Rightarrow \underline{\underline{L=\left\{\frac{2}{3}\right\}}}$$

بيلګه: تعرفورشو:D=R\{-3}

اصلي مخرج:x+3

$$\frac{x^2+4x+3}{x+3}=\frac{(x-2)(x+3)}{x+3}\,|\cdot(x+3)$$

$$\Leftrightarrow x^2+4x+3=x^2+3x-2x-6 \Leftrightarrow x^2+4x+3=x^2+x-6\,|-x^2$$

$$\Leftrightarrow 4x+3=x-6\,|-x \Leftrightarrow 3x+3=-6\,|-3$$

$$\Leftrightarrow 3x=-9\,|:3 \Leftrightarrow x=-3 \text{ da } x\notin D \Rightarrow \underline{\underline{L=\{\ \}}}$$

دا بيلګه ښايي، چې د تعريفورشو ټاکل څومره غوره يا مهم دي. ورته بڼه بدلون مو په حقيقت کې يوې نتيجې ته بيايي، مګر وتونمساوات د دې ارزښت لپاره تعريف نه دی.

بيلګه: $\frac{x^2}{x^2-1}-\frac{x-1}{x+1}=\frac{1-2x}{1-x^2} \Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{-1;1\}$

چلول: $\frac{1-2x}{1-x^2}=-\frac{1-2x}{x^2-1}=\frac{2x-1}{x^2-1}$

له دې سره اصلي مخرج دی: $x^2-1=(x+1)(x-1)$ د بينوم ۳-مه جمله

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

$$\Leftrightarrow \frac{x^2}{x^2-1} - \frac{(x-1)(x-1)}{\underbrace{(x+1)(x-1)}_{x^2-1}} = \frac{2x-1}{x^2-1} \mid \cdot (x^2-1)$$

$$\Leftrightarrow x^2 - \underbrace{(x-1)(x-1)}_{2.\text{ binomische Formel}} = 2x-1 \Leftrightarrow x^2 - (x^2-2x+1) = 2x-1$$

$$\Leftrightarrow x^2 - x^2 + 2x - 1 = 2x - 1 \Leftrightarrow 2x - 1 = 2x - 1$$

دا مساوات د هر $x \in D$ لپاره پوره دی، له دې لاس ته راځي یا

$$\Rightarrow L = D = \mathbb{R} \setminus \{-1;1\}$$

دا مساوات ناپای ډیر حلونه یا ځوابونه لري، ځکه چې مساواتشرایط د هر x لپاره پوره دي.

تعریف ستې ته یادونه :

تعریف ورشو د متحولې x ټول ارزښتونه خوندي لري، د هغو لپاره چې مساوات باور لري. دا چې د یوه مات مخرج باید صفر نه وي، باید د تعریفورشو یا ــډېرى د ټاکلو لپاره و ـځـځيږل شي، چې د متحولې x د کوم ارزښت لپاره مخرج صفر کیږي.

د مات-یا کسرمساواتو د تعریفورشو لپاره بېلګې

بیلګه ۱ :

$$\frac{2}{x} + 7 = 3$$ له دې لاس ته راځي: $$D = \mathbb{R} \setminus \{0\}$$

د متحولې x د ټول ارزښتونو پاره ماتمساوات باور لري، پرته له صفر.

بیلګه ۲ :

$$\frac{3}{x-7} = 2$$ له دې لاس ته راځي: $$D = \mathbb{R} \setminus \{7\}$$ ، ځکه چې $$x - 7 = 0 \Leftrightarrow x = 7$$

ماتمساوات دمتحرلې د ټول x ارزښتونو لپاره باور لري، پرته له 7 څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ځکه چي د x = 7 لپاره مخرج صفر کيږي.

بېلګه ۳ :

$\frac{4}{x+2}+\frac{3}{5x-4}=1$ له دې لاس ته راځي: $D=\mathbb{R}\setminus\left\{-2;\frac{4}{5}\right\}$ ،

ځکه چي $x+2=0 \Leftrightarrow x=-2$ او $5x-4=0 \mid +4 \Leftrightarrow 5x=4 \mid :5 \Leftrightarrow x=\frac{4}{5}$

په اول کسر کي د 2- = x لپاره مخرج صفر کيږي.

په دويمه کسر کي د4/5 = x لپاره مخرج صفر دی.

د يوې لورو بلې ته وړلو له امله چلول

$$\frac{4}{x+2}=\frac{3}{5x-4} \Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\left\{-2;\frac{4}{5}\right\}$$

$\frac{4}{x+2}=\frac{3}{5x-4}$ د رد بدلولو له لارې ضرب $\Leftrightarrow 4(5x-4)=3(x+2)$

$$\Leftrightarrow 20x-16=3x+6 \mid -3x+16 \Leftrightarrow 17x=22 \mid 17 \Leftrightarrow x=\frac{22}{17} \Rightarrow L=\left\{\frac{22}{17}\right\}$$

پوښتني

کسر - یا ماتشمېرنه I دا دې له پورته سره بدل شي

لومړی –

تعريف ورشو وټاکی او مساوات حل کړی

الف - $\frac{2}{x}+3=\frac{5}{2}$ ب - $\frac{2}{3x-4}-\frac{1}{20}=\frac{5}{6x-8}$ پ- $\frac{2}{x-1}-\frac{4}{x+1}=\frac{1}{x-1}$

ت - $\frac{2+x}{x-1}=\frac{3+2x}{x+1}-1$ ټ- $\frac{x^2+4x+3}{x+3}=x-2$ ث - $\frac{-3x+6}{2x-4}+\frac{x}{x-2}=-\frac{7}{6}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

ج - $\frac{4}{x-1}+\frac{1}{5}=\frac{3}{1-x}+\frac{8}{5}$ چ - $x+\frac{2x}{x-1}=0$ ح- $\frac{32}{8x+16}=\frac{5x}{2x+4}$

دويم –

تعريفدپرئ وټاکی او مساوات حل کړی:

الف- $\frac{x^2}{x^2-1}-\frac{x-1}{x+1}=\frac{1-2x}{1-x^2}$ ب - $\frac{5x-5}{x+1}+2=\frac{6x-3}{2x-1}+4$

پ - $\frac{x}{x-2}-\frac{1}{2}=\frac{3}{2x-4}$ ت – $\frac{3-x}{x+1}-4=0$

ټ – $\frac{1}{x}+\frac{2}{x-2}=0$ ث - $3u^2+6u=\frac{4}{3}+\frac{8}{3u}$

دريم –

لاندې غوښتنې يا ثبوتونه و ازمايې؟

$\frac{2x^2+4x-30}{2x-6}=x+5$ د ټولو $x \in \mathbb{R}$. لپاره

څلورم –

تعريف ورشو وټاکی او مساوات حل کړی

الف- $2x+(4-2u)\frac{u+3}{u-1}=-2u+6$ ب - $ux+(u+3)\frac{u}{u-3}=-u$

پنځم-

و ښايی:

$(a+1)^{-1}=a^{-1}+1;\ a \in D$ **کوم حل نه لري.**

شپږم-

مساوات سيستمونه حل کړی

$II:\ \frac{x-4}{y+2}=\frac{x-2}{y+5}$ $I:\ \frac{3}{x-23}=\frac{-2}{y+2}$

اوم –

يوه کوچنی لاری يو $405\ m^3$ بار زخيرې ته په x واره کې وړي، يوه لويه لاری د دې لپاره ۹ واره کم تګ کې دا بار وړی. دواړه لاری دا بار په هر يو 20 واره کې وړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

هره يوه ځانله به دا بار په څو تلو کې يوسي او د هرې لارې کاپڅبتي يا خونديونه به څومره وي؟

اتم –

کوم پيداپښتي يا طبيعي ګڼ(ګڼونه) يا عددونه کېدی شي د 2/5 مخرج يا ماتلاندې ته ورزيات کړي او په همغه وخت کې يې له صورت يا ماتباندې څخه کم کړي چې 2- لاس ته ترې راوړي؟

نهم –

مساوات يا برابرون $\frac{6-2x}{x^2-9}=\frac{3}{2}$ ورکړ شوی.:

الف - تعريف ورشو او حل ورشو وټاکئ

ب - 3/2 په داسې يو بل عدد بدل کړئ، چې دا ناتغير شوی مساوات حل x = - 1 ولري.

نتيجې:

لومړی:

الف- $\frac{2}{x}+3=\frac{5}{2}\Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{0\} \qquad L=\{-4\}$

ب - $\frac{2}{3x-4}-\frac{1}{20}=\frac{5}{6x-8}\Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\left\{\frac{4}{3}\right\} \qquad L=\{-2\}$

پ - $\frac{2}{x-1}-\frac{4}{x+1}=\frac{1}{x-1}\Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{-1;1\} \qquad L=\left\{\frac{5}{3}\right\}$

ت – $\frac{2+x}{x-1}=\frac{3+2x}{x+1}-1\Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{-1;1\} \qquad L=\{-2\}$

ټ - $\frac{x^2+4x+3}{x+3}=x-2\Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{-3\} \qquad L=\{\ \}$

ث - $\frac{-3x+6}{2x-4}+\frac{x}{x-2}=-\frac{7}{6}\Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{2\} \qquad L=\{-1\}$

ج - $\frac{4}{x-1}+\frac{1}{5}=\frac{3}{1-x}+\frac{8}{5}\Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{1\} \qquad L=\{6\}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

چ - $x+\frac{2x}{x-1}=0 \Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{1\} \qquad L=\{-1;0\}$

خ - $\frac{32}{8x+16}=\frac{5x}{2x+4} \Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{-2\} \qquad L=\left\{\frac{8}{5}\right\}$

دویم:الف- $\frac{x^2}{x^2-1}-\frac{x-1}{x+1}=\frac{1-2x}{1-x^2} \Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{-1;1\} \qquad L=D$

ب - $\frac{5x-5}{x+1}+2=\frac{6x-3}{2x-1}+4 \Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\left\{-1;\frac{1}{2}\right\} \qquad L=\{\ \}$

پ - $\frac{x}{x-2}-\frac{1}{2}=\frac{3}{2x-4} \Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{2\} \qquad L=\{1\}$

ت – $\frac{3-x}{x+1}-4=0 \Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{-1\} \qquad L=\left\{-\frac{1}{5}\right\}$

ټ – $\frac{1}{x}+\frac{2}{x-2}=0 \Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{0;2\} \qquad L=\left\{\frac{2}{3}\right\}$

ث - $3u^2+6u=\frac{4}{3}+\frac{8}{3u} \Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{0\}=\mathbb{R}^* \qquad L=\left\{\pm\frac{2}{3};-2\right\}$

دریم –

غوښتنه ناتیک ده، ربښتیا وینا د ټولو $x \in \mathbb{R}\setminus\{3\}$ و لپاره.

څلورم: الف- $2x+(4-2u)\frac{u+3}{u-1}=-2u+6 \Rightarrow x=\frac{5u-9}{u-1}$ für $u \neq 1$

ب - $ux+(u+3)\frac{u}{u-3}=-u \Rightarrow x=-\frac{2u}{u-3}$ für $u \neq 3$

پنځم –

| | |
|---|---|
| له بنې بدلون لرو<br><br>لاس ته راځي، چې د دیسکریمینانت<br><br>$D<0$ له امله حل نه شته | $\frac{1}{a+1}=\frac{1}{a}+1 \Rightarrow D=\mathbb{R}\setminus\{0;-1\}$ \|<br><br>$a^2+a+1=0 \Rightarrow$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



---

شپږم-

بنه بدلون راکوي:

$$3y + 2x = 40 \wedge -2y + 3x = 16 \quad \Rightarrow L = \left\{ \frac{128}{13}; \frac{88}{13} \right\}$$

اوم –

